

# خالى له بوټو سره خبرې کوي.

Ursula Nafula

Jesse Pietersen


Darakhte Danesh

2

پښتو ps



دا خالۍ ده. اووه کالنه دی. د هغې ژبه چې خبرې پرې کوي لوبوکوڅو نومیږي او غوره مانا ورکوي.



کله چې له خوبه جګېږی د مالټې له ونې سره خبرې کوي او
ورته وايي چې هیله کوم ژر پخه شه او مور ته مالټې راکړه.



کله چې خالۍ د ښوونځي پر لاره روانه وي، له وانبو سره هم خبرې کوي او غوښتنه یې دا وي چې ژر وچ نه شي او همداسې زرغون پاتې شي.




. کله چې خالې د ځنګل تر څنګ روانه وي، له دوی هم
همدا هیله کوي چې د ځنګل ګلانو همداسې زرغون اوسئ
چې زه مو په اوربل کې کنبیېږدم.



. نوموړې د ښوونځي د غټې ونې لاندې ناسته وي او ورته وايي چې ونې اوږد ښاخونه ولره چې موږ مو تر سيوري لاندې کښينو.



خالۍ د ښوونځي دیوال ته وایي هیله کوم غښتلی اوسه،
نا اهله او کوڅه ډب هلکان د ننه ښوونځي ته مه را پرېږده.



کله چې خالۍ له ښوونځي څخه د کور په لور روانېږي، د مالتېې ونې ته ګوري او ورته وايي چې مالتېو پخې شوې نه يې.



خالۍ سوړ اسویلی وکړي او له ځان سره ووایي، لا هم
پخې شوي نه دي او د صبر په بڼه وایي، خیر کیدای شي
تر سبا پورې پخې شي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## خالې له بوټو سره خبرې کوي.

Ursula Nafula
Jesse Pietersen
Darakhte Danesh

CC BY